د کابل پوهنــــتون د ټولنیزو علومو علمي- څېړنیزه مجله
مجـــــله علمی- تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون کابل
Journal of Social Sciences - Kabul University
e-ISSN: 3078-557X P-ISSN: 3078-6657

# په اسلامي شریعت کې د څارویو حقونه

**پوهنوال سیدابوبکر هاشمي**

اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ، شرعیاتو پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان

Email: abubaker_hashimi@yahoo.com

**لنډیز**

دا څېړنه د اسلام له نظره د څارویو حقونه روښانه کوي. د قرآن، حدیث او فقهي اصولو پر بنسټ د هغوی ساتنې، پالنې او درناوي ته اشاره کوي. دا څېړنه د توصیفي او تحلیلي میتودونو له لارې ترسره شوې، چې اسلامي نصوص، فقهي منابع او د علماوو نظریات پکې شامل دي. اسلام څارویو ته ځانګړي حقونه ورکړي، د هغوی د خوراک، څښاک او استوګنې خیال ساتل لازم ګڼي، ظلم منع کوي او له هغوی سره د مهربانۍ توصیه کوي. د قرباني، ښکار او کار لپاره د څارویو کارونې ته هم شرعي حدود ټاکل شوي دي. د څارویو د حقوقو رعایت نه یوازې د اسلامي اخلاقو برخه ده، بلکې د چاپېریال ساتنې، بشردوستۍ او ټولنیز عدالت لپاره هم اړین دی. د اسلام په رڼا کې څارویو ته درناوی، عدالت او رحمت توصیه کوي او دا اصول باید په معاصر ژوند کې عملي شي او څارویو باندې ظلم و نه شي.

**کلیدی اصطلاحات:** څاروي؛ حقونه؛ چاپېریال؛ قرباني؛ طبیعت

# Animal Rights in Islamic Law

**Sayed Abubaker Hashimi**

Department of Islamic Culture, Faculty of Shriah, University of Kabul, Kabul Afghanistan

Email: abubaker_hashimi@yahoo.com

**Abstract**

This research highlights the rights of animals from an Islamic perspective, emphasizing their protection, care, and respect based on the Quran, Hadith, and Islamic jurisprudential principles. The study employs descriptive and analytical methods, including Islamic texts, jurisprudential sources, and opinions of scholars. Islam grants specific rights to animals, making it obligatory to provide them with food, water, and shelter while prohibiting cruelty and encouraging kindness. There are also established Shariah guidelines for using animals for sacrifice, hunting, and labour. Observing animal rights is not only a part of Islamic ethics but also essential for environmental protection, humanitarian values, and social justice. Islam advocates respect, justice, and mercy toward animals, and these principles should be implemented in modern life to prevent cruelty toward them.

**Keywords:** Animal; Environment; Nature; Rights; Sacrifice

**ارجاع:** هاشـــمی، س. ا. (۱۴۰۳). په اســـلامي شریعت کې د څارویو حقونه. *د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو علمي- څېړنیزه* ۷(۴). ۱۵۵-۱۶۹. https://doi.org/10.62810/jss.v7i4.178

## سریزه

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی خیر خلقه محمد وعلی آله و صحبه اجمین اما بعد:

اسلام د څارویو د حقوقو په اړه پراخې او روښانه لارښوونې لري. څاروي د الله تعالی مخلوقات دي او انسان ته امر شوی، چې له هغوی سره په مهربانۍ، شفقت او عدل چلند وکړي. اسلام نه یوازې دا چې د څارویو د ښېګڼې توصیه کوي، بلکې د هغوی د ازارولو، لوږې، تشدد او بې ځایه وژل منع کوي.

حضرت محمد ﷺ د څارویو حقونو ته ځانګړې اهمیت ورکاوه او د هغوی سره د ناسم چلند سخت مذمت یې کړی دی. هغه وفرمایل:[ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَنَا أَجْرٌ فِي الْبَهَائِمُ؟ قَالَ: «نَعَمْ فِي كُلِّ ذَاتِ كَبِدٍ رَطْبٍ أَجْرٌ»](ابو عوانه الاسفرائيني.۱۹۹۸م.ج۲ ص ۳٦۷ ). ژباړه: ابو هریره رضي الله عنه روایت کوي، موږ وویل: ای د الله رسوله! ایا موږ ته د څارویو په پاللو کې اجر شته؟ هغه وویل هو! په هر ژوندي ساه لرونکي(ژوي) باندې احسان کې اجر او ثواب شته.

دا حدیث د څارویو د حقونو ارزښت څرګندوي. اسلام موږ ته امر کوي، چې د هر ژوندي مخلوق سره رحم او نرمي وکړو. که یو څوک څاروي ته خواړه او اوبه ورکوي یا د هغه اړتیاوې پوره کوي، نو د الله تعالی له لوري ورته اجر ورکول کیږي. دا حدیث د اسلام د رحمت او عدالت ښکاره بېلګه ده، چې یوازې انسانان نه، بلکې ټول مخلوقات پکې شامل دي." . موږ وویل: ای د الله رسوله! ایا موږ ته د څارویو په پاللو کې اجر شته؟ هغه وویل هو! په هر ژوندي ساه لرونکي(ژوي) باندې احسان کې اجر او ثواب شته

په فقهي کتابونو کې د څارویو د کارولو، ښکار، قربانۍ او حتی د هغوی د حقونو تر پښو لاندې کولو د ګناهونو تفصیل شوی دی. اسلام د رفق او نرمۍ دین دی او د انسانانو ترڅنګ، د څارویو حقونه هم په جدي ډول تضمینوي، ترڅو په ټولنه کې د عدالت او رحم اصول پلې شي.

## د څېړنې ستونزه

د دغې څېړنې اصلي ستونزه دا ده، چې ډېری خلک د څارویو د حقونو په اړه کافي معلومات نه لري، معلومات هو لري؛ خو په بشپړه توګه یې له پامه غورځوي. د دې ناپوهۍ له امله د څارویو اړتیاوې لکه خواړه، سرپناه او روغتیا، تر ډیره نه مراعات کیږي او ډېری ناپوهان ورسره ناوړه چلند کوي. هغوی که د څارویو حقونه، کوم چې اسلام ورکړي مطالعه کړي نو څاروي به د هغوی له ناوره چلند څخه نجات پیدا کړي.

**د څېړنې ارزښت**

د څارويو حقونه د انسانيت د بنسټيزو ارزښتونو يوه مهمه برخه جوړوي. د دې موضوع څېړنه د ټولنيز، اخلاقي، علمي او مذهبي اړخونو له مخې ډېر اهميت لري. دا د انساني کرامت، ټولنيز پرمختګ او د طبيعي نړۍ د ساتنې لپاره يوه اړينه هڅه ده. د څېړنې په پايله کې انسان کولای شي له څارويو سره په مهربانۍ چلند وکړي او د هغوی حقونه په ښه ډول مراعات کړي.

**د څېړنې د غوراوي لاملونه**

۱. دغه موضوع مې ځکه وټاکله، چې خلک د څارويو د حقونو په هکله پوهاوی پيدا کړي. خلک پوی شي چې د څارويو سره نرمي د انسان د شخصيت او اخلاقو ښکارندويي کوي. يو مهربان انسان به نه يوازې د څارويو، بلکې د ټولنې ټولو غړو سره ښه چلند کوي، نو ځکه مې دغه موضوع وټاکله.
۲. دغه موضوع د معاصرې نړۍ اړتيا ده. په اوسني عصر کې خلک په څارويو ډېر ظلمونه کوي. د دې موضوع حل يوازې په اسلام کې دی. نو له دې کبله مې دغه موضوع وڅېړله.

**د څېړنې پوښتنې**

**اصلي پوښتنه**

د اسلامي شريعت په رڼا کې څارويو ته بايد کوم اساسي حقونه ورکړل شي؟

**فرعي پوښتنې**

۱. د څارويو سره بايد څنګه چلند وشي؟
۲. اسلام د څارويو په هکله څه نظر لري؟
۳. د انسان لپاره د څارويو ګټه څه ده؟
٤. د انسان کوم تصرفات له څارويو سره منع دي؟

**د څېړنې موخې**

۱. د اسلام په رڼا کې څارويو ته د ورکړ شويو حقونو پيژندنه؛
۲. د څارويو د حقونو په هکله د عامه پوهاوي لوړول؛
۳. د څارويو حقونه رعايت شي، ظلم او ناوړه چلند ورسره ونه شي؛

**د څېړنې مخينه**

د څارويو د حقونو مفکوره لرغونی تاريخ لري او په بېلا بېلو دورو کې يې د مذهبي او علمي افکارو په رڼا کې وده کړې ده. د دې موضوع مخينه د انساني اخلاقو او طبيعت کې د همغږۍ په هڅو کې ريښه

لري. په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې د څارویو حقونه ذکر شوي دي، چې په اوسني عصر کې هم په دې هکله کتابونه لیکل شوي دي، چې د بېلګې په توګه د دریو کتابونو یادونه کوم.

۱. حقوق الحیوان فی الاسلام، چې محمد علی البار یې مؤلف دی. مؤلف په دې کتاب کې د څارویو استوګن ځایونه، تغذیې او روغتیا ساتنې لپاره عملي تدابیر وړاندې کړې دي.
۲. الرفق بالحیوان في الشریعة الاسلامیة، چې مؤلف یې محمد ابراهیم الحمد دی. مؤلف په دې کتاب کې د څارویو د حقونو په اړه د ټولنې د پوهاوی زیاتول او د څارویو د ښه ژوند لپاره د مثبتو عادتونه رواجول څېړلي دي.
۳. الرفق بالحیوان في الشریعة الاسلامیة:، چې مؤلف یې دکتور عبدالعزیز بن عبدالله دی. دا کتاب د اسلام د مهرباني او عدالت اصول روښانه کوي، چې څرنګه باید د څارویو سره ښه چلند وشي او د هغوی د حقونو ساتنه ولې ضروري ده.

دا کتابونه په عربي ژبه دي، خو په پښتو ژبه ما کوم داسې کتاب پیدا نه کړ، چې په دې اړه معلومات پکې راغلي وي؛ نو ومې غوښتل چې په دې هکله څېړنه وکړم، ترڅو زمونږ د وطن خلك پوه شي چې اسلام څارویو ته په ښه نظر ګوري او هغوی د طبیعت ښکلا ګڼي.

**څېړندود**

په دې څېړنه کې له توصیفي او تحلیلي میتودونو څخه د قرآن، احادیث او فقهاوو نظرونو په رڼا کې کار اخیستل شوی دی.

**د څېړنې پلان**

دا څېړنه د څارویو د حقونو او په هغوی باندې د نرمۍ په اړه لیکل کیږي، چې ډیر ښه مطالب لري، په لومړي مبحث کې د شریعت نرمي او رفق تر څېړنې لاندې نیول شوی دی او په دویم مبحث کې د قرآني ایاتو او نبوي احادیثو په رڼا کې د څارویو حقونه شرح شوي دي او په دریم مبحث کې د قرآن آیتونو په رڼا کې د څارویو ارزښت تربحث لاندې نیول شوی او په څلورم مبحث کې د اسلام لخوا د څارویو سره د ځینو ممنوعو تصرفاتو تحریم تر عنوان لاندې موضوع څېړل شوې ده. په پینځم مبحث کې، د څارویو سره د حق د ناسم استعمال تحریم موضوع شرحه روښانه شوې او په شپږم مبحث کې، د سوارۍ په حق کې بې ځایه سختي او د هغې اسلامي قیودات شرحه شوي. په دې څېړنه کې له توصیفي، تحلیلي میتودونو څخه کار اخسیتل شوی دی.

**نرمي او رفق یو اسلامي اصل دی**

دغه مبحث څلور مطلبونه لري او دا خبره روښانه کوي، چې اسلام په اصل کې د نرمۍ او شفقت دین دی.

### الله جل جلاله نرمي خوښوي

اسلام په ټولو چارو کې د نرمۍ او مهربانۍ اصول شامل کړي، چې دا د مؤمن ځانګړتیا او د ایمان د ځواک نښه ګڼل کېږي. نرمي او نیک چلند د کارونو ښکلا جوړوي او د هغې نه شتون د چارو عیب ګڼل کېږي. .الله جل جلاله رفق او نرمي خوښوي.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: [إِنَّ اللَّهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الأَمْرِ كُلِّهِ] (البخاري. ١٤٢٢. ج٩ ص ١٦.)

ژباړه: بېشکه الله نرم (مهربان) دی او په ټولو کارونو کې نرمۍ خوښوي.په صحیح مسلم کې بله روایت داسې دی:

[إِنَّ اللَّهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ، وَيُعْطِي عَلَى الرِّفْقِ مَا لاَ يُعْطِي عَلَى الْعُنْفِ وَمَا لاَ يُعْطِي عَلَى سِوَاهُ.] ( مسلم. ب ت. ج۴ ص ۲۰۰۳ ).

ژباړه : بېشکه الله نرم دی، نرمۍ خوښوي او په نرمۍ باندې داسې اجر ورکوي چې په سختۍ یا نورو طریقو یې نه ورکوي.

### نرمي د هر کار ښکلا ده

حضرت عایشه رضی الله عنها روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:[إِنَّ الرِّفْقَ لاَ يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلاَّ زَانَهُ، وَلاَ يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ إِلاَّ شَانَهُ] (لنیسابوري. ۲۰۰۳م. ج٤ ص ٢٠٠٤) .

ژباړه: نرمي په هر شي کې چې وي هغه ښکلی کوي او که له یو شي څخه واخیستل شي، هغه بد ښکاري.

### نرمي د خیر نښه ده

څوک چې په خپلو کارونو کې له نرمۍ څخه کار اخلي، الله پاک هغه ته خیر ور په نصیب کوي.

حضرت ابو درداء رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

[مَنْ أُعْطِيَ حَظَّهُ مِنَ الرِّفْقِ، فَقَدْ أُعْطِيَ حَظَّهُ مِنَ الْخَيْرِ، وَمَنْ مُنِعَ [ص:٤٢] حَظَّهُ مِنَ الرِّفْقِ، مُنِعَ حَظَّهُ مِنَ الْخَيْرِ] (ابوبکر ابن ابی شیبه. ۱۹۹۷. ج۱ ص ۴۱.).

ژباړه : هغه چاته چې د نرمۍ برخه ورکړل شي، نو د خیر برخه ورکړل شوې ده او څوک چې له نرمۍ بې برخې شي، هغه له خیر څخه بې برخې شوی دی.

### په نرمۍ کې خیر ده

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:[الرِّفْقُ يُمْنٌ، وَالْخُرْقُ شُؤْمٌ](التقي الهندي.۱۹۸۱. ج۳. ص ۵۱).

ژباړه: نرمي خير دی او سختي شومه ده.

د پورتني احاديثو په رڼا کې څرګنديږي چې نرمي د اسلام يو اساسي اصل دی. د الله تعالی او د رسول الله ﷺ خوښي په نرمۍ، ښه چلند او د نورو سره په مهربانۍ کې ده. هر هغه څوک چې نرم وي، هغه ته د خير ډېرې دروازې پرانيستل کيږي

**د اسلام نظر د څارويو په اړه.** دغه مبحث په درې مطالبو کې شرح کيږي.

***اسلام څارويو ته په ښه سترګه ګوري***

اسلام د څارويو نړۍ ته په يوه عملي او واقعي نظر ګوري، چې د دوی اهميت، د انسان لپاره ګټې او د کايناتو په رغونه کې د هغوی مرسته څرګندوي. څاروي په اسلامي فکر او شريعت کې مهم ځای لري، چې د قرآني سورتونو له نومونو څخه هم ښکاري. په قرآن کريم کې ځينې سورتونه د څارويو په نوم نومول شوي دي، لکه: البقره، الأنعام، النحل، النمل، العنکبوت او الفيل.

***اسلام د څارويو ارزښت بيانوي***

قرآن کريم نه يوازې د څارويو اهميت او ګټې څرګندوي، بلکې د هغوی عزت او ارزښت هم بيانوي او د انسان ترڅنګ يې د هغوی ځای ټاکلی دی.

په سورة النحل کې الله تعالی د څارويو د اهميت په اړه فرمايي: [وَالأَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ، وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ، وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَى بَلَدٍ لَمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الأَنْفُسِ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ، وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً وَيَخْلُقُ مَا لاَ تَعْلَمُونَ] (سورة النحل، آيتونه ۸-۵).

ژباړه: څاروي يې ستاسې لپاره پيدا کړل، چې په هغو کې ګرمۍ (پيدا کولو) وسيلې، نورې ګټې او ستاسو خوراک دی. ستاسو لپاره په هغو کې ښکلا ده، کله چې تاسو هغوی ته ارام ورکوئ او کله چې څرځای ته يې بوزئ. همدغه څاروي ستاسې درانه بارونه هغو ځايونو ته رسوي چې له دوی پرته يې د ځانونو په کړاو او ربړولو سره رسولای شئ. بېشکه ستاسو رب ډېر مهربان او رحم کوونکی دی. اسونه، کچر او خره يې پيدا کړل، چې پرې سپاره شئ او ستاسو لپاره ښکلا ده او هغه څه پيدا کوي چې تاسو پرې نه پوهېږئ.

**په اسلام کې د ځينو څارويو ستاينه**

اسلام د ځينو څارويو ستاينه کړې ده، د هغوی د ځانګړو ګټو او ستايلو وړ صفاتو له امله يې د هغوی سره ښه چلند کول واجب بللي دي. په دې اړه لاندې احاديث او توضيحات وړاندې کېږي:

### د اسونو فضيلت

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:[الْخَيْلُ مَعْقُودٌ بِنَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ] (الطيالسي.۱۹۹۹. ج ۲ ص ۳۸۵). ژباړه: د اسونو په تندي کې د قيامت تر ورځې پورې خير تړلی دی.

بل روايت نورو زياتونو سره راغلي:[ وَالْإِبِلُ عِزٌّ لِأَهْلِهَا، وَالْغَنَمُ بَرَكَةٌ] ( العبسي. ۱۹۹۷م).

ژباړ: اوښان د خپل خاوند لپاره عزت دي او وزې برکت دي (ابن حجر، جلد ٦، صفحه ۳۹۵).

### د چرگ ستاينه

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:[لاَ تَسُبُّوا الدِّيكَ، فَإِنَّهُ يُوقِظُ لِلصَّلاَةِ]( الطبراني. ب ت. چلد ۵ ص ۳۴۰).

ژباړه: د چرگانو بد مه وايئ، ځکه هغه د لمانځه لپاره خلك راويښوي.

د اسونو اهميت: په اسلام کې د اسونو ځای لوړ گڼل شوی دی، ځکه دوی د جگړو، سفرونو او خير رسولو وسيله دي. د اوښانو عزت: اوښان د صحرا د خلکو د بدن پياوړتيا اود سفرونو لپاره ځانگړی حيثيت لري. د وزو برکت: وزې د خوراك، شيدو او نورو گټو له کبله برکت بلل شوې دي. د چرگانو بد ويل منع دي، ځکه

هغوی د عبادت لپاره خلك راويښوي.

### د ځارويو سره نرمي د الله جل جلاله عبادت دی

اسلام په دې ټينگار کوي چې د ځارويو سره نرمي کول او ښه چلند کول د عبادت يوه بڼه ده، چې ځينې وختونه د لويو انعامونو او د مغفرت قوي اسبابو ته رسېږي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:[ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي فِي طَرِيقٍ اشْتَدَّ عَلَيْهِ الْحَرُّ، فَوَجَدَ بِئْراً فَنَزَلَ فِيهَا فَشَرِبَ، ثُمَّ خَرَجَ، فَإِذَا كَلْبٌ يَلْهَثُ يَأْكُلُ الثَّرَى مِنَ الْعَطَشِ، فَقَالَ الرَّجُلُ: لَقَدْ بَلَغَ هَذَا الْكَلْبُ مِنَ الْعَطَشِ مِثْلَ الَّذِي كَانَ بَلَغَ مِنِّي، فَنَزَلَ فِي الْبِئْرِ فَمَلأَ خُفَّهُ مَاءً، ثُمَّ أَمْسَكَهُ بِفِيهِ حَتَّى رَقِيَ، فَسَقَى الْكَلْبَ، فَشَكَرَ اللَّهُ لَهُ فَغَفَرَ لَهُ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لَنَا فِي الْبَهَائِمِ أَجْرًا؟ قَالَ: فِي كُلِّ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ]( البخاري. ۱٤۲۲ه ق. ج۳ ص ۱۳۲).

ژباړه: يو سړی په لاره روان و، سخته گرمي پرې راغله، نو يوه څاه يې پيدا کړه، ورښکته شو او اوبه يې وڅښلې. کله چې بيرته راووت، ويې ليدل چې يو سپئ ساه وهي او له تندې څخه لمده خاوره خوري. هغه سړي وويل:" دغه سپی هم د داسې تندې سره مخ دی لکه چې زه وم." نو خپل بوټ يې د اوبو څخه ډک کړ، په خوله کې يې ونيوه، بيرته راوخوت او سپي ته يې اوبه ورکړې. الله تعالی د ده دا عمل خوښ کړ او بښنه يې ورته وکړه. اصحابو وپوښتل: ای د الله رسوله! ايا موږ ته د ځارويو په پاللو کې اجر شته؟ هغه وويل هو! په هر ژوندي ساه لرونکي(ژوي) باندې احسان کې اجر او ثواب شته.

ترې سپي ته اوبه ورکول د ګناه د بښنې سبب کيږي

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: [ إِنَّ امْرَأَةً بَغِيًّا رَأَتْ كَلْبًا فِي يَوْمٍ حَارٍ يَطِيفُ بِبِئْرٍ قَدْ أَدْلَعَ لِسَانَهُ مِنَ الْعَطَشِ، فَنَزَعَتْ لَهُ بِمُوقِهَا، فَغَفَرَ لَهَا ] ژباړه : يوې فاحشې ښځې په ګرمه ورځ کې يو سپی وليد، چې د ډېرې تندې له کبله د يوې څا په څنګ کې ګرځېده او ژبه يې راوتلې وه، هغې خپل (بوټ) واخېست او هغه ته يې اوبه ورکړې، نو الله تعالی هغه ښځه وبښله ( التميمي, الموصلي.۱۹۸٤. ج ۱۰ ص ٤٢٣) (النووي.۱۳۹۲. ج١٤, ٢٤٢).

انسان کولی شي د څارويو سره د نرمۍ او ښه چلند له لارې د الله له لورې انعام ترلاسه کړي.

حتی د څارويو د تندې او اړتيا په حالت کې د هغوی سره مرسته کول د اسلام له مخې عبادت ګڼل کيږي. د فاحشې ښځې ګناه ځکه وبښل شوه، چې هغې له يوه سپي سره مرسته وکړه.

**د اسلام لخوا د څارويو سره د ځينو ممنوعه تصرفاتو تحريم**

اسلام په څارويو کې د ځينو بدو او غير شرعي تصرفاتو پر وړاندې سخت دريځ لري؛ لکه د هغوی ځورول، بې ګټې وژل او د هغوی په خپل منځ کې په جګړو اچول. داسې اعمال د اسلام له نظره ګناه ګڼل کيږي او د سزا وړ دي. رسول الله ﷺ د دې موضوع په اړه لاندې حديثونه د ويلي دی:

***د څارويو له جنګ اچونې څخه منعه***

اسلام د څارويو جنګول او يو د بل په ضد تحريکول منع کړي دي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي :[نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ التَّحْرِيشِ بَيْنَ الْبَهَائِمِ] (لسجستاني. ب ت. ج۳. ص ۲۶). ژباړه: رسول الله ﷺ د څارويو جنګول منع کړي.

***د څارويو د بچيو سره لوبې***

د څارويو بچيو سره بايد بې ځايه لوبې ونه شي. ځينې خلك د مرغانو پچي نيسي بيا يې کوچنيو ماشومانو ته په لاس کې ورکوي، هغوی يې ځوروي او په دې سره د هغوي ميندې هم ځوريږي. رسول الله صلی الله عليه وسلم له دې کار څخه منع کړې ده.

[مَن فَجَعَ هَذِهِ بِوَلَدِهَا؟ رُدُّوا وَلَدَهَا إِلَيْهَا ] (السجستاني. ب ت. ج ۳ ص ۵۵). ژباړه:څوك دی، چې د دې مور له ماشوم سره بې رحمه چلند کوي؟ خپل ماشوم هغې ته بيرته ورکړئ.

***د چوغکې يعنی د مرغی بې ګټې وژنه***

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: [مَن قَتَلَ عُصْفُوراً عَبَثًا عَجَّ إِلَى اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَقُولُ: يَا رَبِّ إِنَّ فُلَانًا قَتَلَنِي عَبَثًا وَلَمْ يَقْتُلْنِي لِمَنْفَعَةٍ](احمد بن حنبل. ب ت.ج ۳۲ ص ۲۲۰).

ژباړه: څوك چې يوه چوغکه بې ګټې وژني، هغه به په قيامت کې د الله حضور ته ورشي او وبه وايي: "يا ربه! هغه کس بې ګټې وژلې يم، د کوم منفعت لپاره يې نه يم وژلې.

***د ځارويو د نښه ګرځولو څخه منعه***

ځيني خلك د نښې پخولو لپاره مارغان خوشې کوي او بيا يې په هوا کې پرې ډزې کوي يا يو حيوان تړي او بيا له لرې مسافې پرې ډزې کوي. رسول الله ﷺ فرمايلي دي:[ لَعَنَ اللَّهُ مَنْ اتَّخَذَ شَيْئًا فِيهِ رُوحٌ غَرَضًا ](الترمذي. ۱۹۷۵م ج٤ ص ۷۲).

ژباړه :( الله تعالی هغه کسان لعنت کوي چې د ژونديو موجوداتو له جسد څخه د هدف په توګه استفاده کوي.

د ځارويو سره نرمي او درناوی د اسلام بنسټيزه لارښوونه ده چې د ځارويو سره بايد په نرمه او مهربانه توګه چلند وشي، که څه هم هغوی ښکار يا کارګران وي.

**د ځارويو د ناسمې کارونې څخه منعه**

اسلام انسانانوته دا حق ورکړی، چې د ځارويو څخه ګټه واخلي، خو داحق بايد په مشروع ډول وي. که دا حق په ناسم ډول وکارول شي، نو اسلام هغه منع کړی دی. د اسلام په متونو کې د ذبح کولو په اړه ځانګړې لارښوونې راغلې دي، چې تفصيل يې په لاندې ډول دی.

***د ذبح کولو د حق په ناسم استعمال کې تحريم***

اسلام انسانانو ته د ځارويو د ذبح کولو حق ورکړی، خو په دې حق کې د مهربانۍ او احسان امر يې کړی دی. رسول الله ﷺ فرمايي:

[وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَةَ، وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ، وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ] (الصنعاني. ۱٤۰۳ه ق ژباړه: ج٤ ص ٤۹۲) .ژباړه: کله چې تاسو ذبحه کوئ، نو په ذبح کولو کې مهرباني وکړئ، شفره مو تيره کړئ او خپلې ذبحې ته آرام ورکړئ.

**۱. د ذبحې کولو اصول:** فقهاوو د ذبح کولو په وخت کې ځيني اداب او اصول ټاکلي دي، چې د ځارويو سره د مهربانۍ او احترام ډاډ ورکوي. د امير المؤمنين عمر بن خطاب لخوا ويل شوي:

[من الإحسان للذبيحة أن لا تجر الذبيحة إلى من يذبحها ]ژباړه: د ذبح کولو احسان دا دی، چې ځاروی د ذبح کولو ځای ته کش نه شي.

**۲. د ذبح کولو په وخت د ځاروي تر مخ د چړې تيره کول منعه دي:** فقهاوو ويلي، چې د ذبحې څخه مخکې بايدځاروي ته د چړې تېره کول ونه ښودل شي. د ابن عباس څخه روايت دی:

[ مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ، صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَلَى رَجُلٍ وَاضِعٍ رِجْلَهُ عَلَى صَفْحَةِ شَاةٍ، وَهُوَ يَحِدُّ شَفْرَتَهُ، وَهِيَ تَلْحَظُ إِلَيْهِ بِبَصَرِهَا، فَقَالَ: «أَفَلا قَبْلَ هَذَا، أَتُرِيدُ أَنْ تُمِيتَهَا مَوْتَتَيْنِ!؟ ] (المقدسي . ۲۰۰۰م .ج۱۲ ص١٥٤). ژباړه:رسول الله صلى الله عليه و سلم له يوه سړي تېر شو چې خپله پښه يې د پسه په غاړه ایښې وه او چاړه يې تېروله، او هغې په خپلو سترګو ليدله. نو رسول الله ﷺ ورته وويل: "ايا ته غواړې چې دا څاروی دوه ځلې ووژنې؟ ولې دې چاړه مخکې له دې تېره نه کړه!؟"

**۳. د ذبح کولو په وخت کې د مهربانۍ او نرمۍ ترويج:** رسول الله ﷺ د ذبح کولو په وخت کې د څارويو سره په نرمۍ او مهربانۍ چلند کولو سپارښتنه کړې، کله چې يوه کس د ذبحې لپاره يو پسه په زور کشاوه، نو رسول الله ﷺ وويل: [يَا جَزَّارُ سُقْهَا سُوقًا رَفِيقًا] الصنعاني(.١٤٠٣. ج ۴ ص ۴۹۳). ژباړه: ای قصابه! په نرمۍ سره يې بوزه.

### *د څاروي د وژلو په حق کې بې ځایه سختي*

اسلام انسان ته د هغو څارويو د وژنې اجازه ورکړې، چې زيان رسوي؛ لکه مضر سپی (لکه لیونی سپی)، زهري مار، تخريب کوونکی موږك او ورته نور. خو اسلام د دې وژلو اجازه هم په نرمه او انساني توګه ورکړې، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: [إن الله كتب الإحسان في كل شيء، فإذا قتلتم فأحسنوا القتلة] (ابن ماجه. ب تب ج ۲ ص ۱۰۵۸).

ژباړه: بېشکه الله تعالى په هر څه کې ښه چلند لازم کړی دی، نو کله چې تاسو وژنه کوئ، په ښه طريقه يې ترسره کړئ.

### *د میږیو لهسوځولو څخه منعه*

د ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په يوه سفر کې وو، نو موږ د میږيو يوه ځاله وسوځوله. رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل:[من حرق هذه؟] (ژباړه: څوك دی چې دا يې وسوځوله؟") موږ ورته وويل: موږ سوځولې ده. هغه وفرمايل:[إنه لا ينبغي أن يعذب بالنار إلا رب العالمين] ( الشاشي. ١٤١٠ه ق. ج١ ص ٣٢٠).

ژباړه: بېشکه يوازې رب العالمين ته ښايي چې د اور عذاب ورکړي.

### *د کربوړي وژنه*

رسول الله صلى الله عليه وسلم د الوزغ (يوه زيان رسونکې خزنده) د وژلو امر کړی دی، خو په ښه توګه يې د وژلو لارښوونه کړې، يعنې په يوه ګوزار سره يې ووژنئ او له زياتو ګوزارونو څخه ځان وساتئ. د ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:[من قتل وزغة في أول ضربة فله كذا وكذا حسنة].

ژباړه: څوک چې الوزغ په لومړي ګوزار ووژني، هغه ته د فلاني مقدار ثواب دی.

په یوه روایت کې راځي:

[من قتل وزغا في أول ضربة کتبت له مائة حسنة، وفي الثانیة دون ذلك، وفي الثالثة دون ذلك ]( النیسابوري. ب ت . ج ٤ ص ١٧٥٨).

ژباړه: څوک چې الوزغ په لومړي ګوزار ووژني، هغه ته سل نیکۍ لیکل کیږي. په دویم ګوزار کې لږ څه کمیږي او په دریم ګوزار کې بیا تر دې هم کمې نیکۍ لیکل کیږي.

**د سوارۍ په حق کې بې ځایه سختي او د هغې اسلامي قیودات**

متن:[لِترَکَبُوهَا وَزِینَةً ] الله تعالی څاروي د انسان د سفر او زینت لپاره مسخر کړي دي، خو دا حق مطلق نه دی. اسلامي شریعت داسې حدود او قیودات وضع کړي، چې د څاروي د حقونو رعایت وکړي او د هغه له ضرر څخه مخنیوی وکړي.

***د څاروي د سوارۍ په اړه اړین حقونه***

په اوږدو سفرونو کې څاروي ته باید د ارام او رمه کولو اجازه ورکړل شي. په صحیح بخاري او مسلم کې د ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:[إذا سافرتم في الخصب فأعطوا الإبل حظها من الأرض ] ( النسائي. ٢٠٠١. ج ٨ ص ١١١ ) . ژباړه: که په هغه ځمکه کې چې حاصل ورکوي سفر کوئ اوښانو ته د ځمکې خپله برخه ورکړئ.

امام نووي په "شرح صحیح مسلم" کې لیکلي:[معنی الحدیث الحث علی الرفق بالدواب، ومراعاة مصلحتها ]

ژباړه: په دې حدیث کې د څارویو سره نرمي او د هغوی د مصلحت رعایت کولو باندې ټینګار شوی دی.

***په یوه څاروي باندې د دریو کسانو سپرېدلو منعه***

په اسلام کې په یوه څاروي باندې د دریو کسانو سپرېدل منع دي.په الطبراني کې د جابر رضي الله عنه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

[نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم أن یرکب ثلاثة علی دابة ](الطبراني. ب ت، ج ٧ ص ٢٨٧) . ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم. په یوه څاروي ددریو کسانو د سپرېدو نهې کړې ده.

[یحمل ما ورد في الزجر من ذلك علی ما إذا کانت الدابة غیر مطیقة ].

ژباړه: دا حکم د هغو څارویو لپاره دی، چې د دریو کسانو وزن نه شیزغملی.

***په څاروي د پورته کېدو او د هغه د ځورولو منعه***

په شريعت کې په څاروي باندې پورته کېدل او هغه ځورول منع دي.

په سنن ابو داود کې روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: [إياكم أن تتخذوا ظهور دوابكم منابر] (البيهقي. ۲۰۰۳م. ج ۵ ص ۴۱۸). ژباړه: د څاروي شاته د منبر په څېر مه کاروئ.

سهيل بن الحنظليه وايي: [مر رسول الله صلى الله عليه وسلم ببعير قد لصق ظهره ببطنه فقال: اتقوا الله في هذه البهائم فاركبوها صالحة] (ابن خزيمه. ب ت. ج ۴ ص ۱۴۳.).

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم د يوه اوښ د څنګ تېر شو، چې شا يې له خېټې سره نښتې وه، ويې فرمايل: د دې څارويو په اړه له الله وېره وکړئ، په هغه په نرمۍ سره سپاره شئ.")

***په هغو څارويو سپرېدل، چې د سپرېدو لپاره نه دي پيدا شوي***

قاضي ابو بکر بن العربي ليکلي: [لا خلاف في أن البقر لا يجوز أن يحمل عليها].

ژباړه: په دې کې هېڅ اختلاف نشته، چې غواګانې بايد د سپرېدو لپاره ونه کارول شي، ځکه چې هغوی د دې وړتيا نه لري.

***د ضرر رسوونکو قيدونو کارونه***

په صحيح حديث کې راغلي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: [لا يبقين في رقبة بعير قلادة من وتر إلا قطعت] (مالك بن انس. ۲۰۰٤م . ج۵ ص ۱۳۷۱). ژباړه: د اوښ په غاړه کې داسې قلاده مه پرېږدئ، چې هغه ته زيان ورسوي. ځينې علماء په دې حديث کې په څاروي د رحم ټينګار کوي او وايي چې دا ډول قيدونه د څاروي د اختناق او تکليف سبب ګرځي.

**لاس ته راوړنې**

۱. اسلام د نرمۍ او رفق دين دی. اسلام په ټولو چارو کې د نرمۍ او مهربانۍ اصول شامل کړي دي.
۲. قرآن کريم څارويو ته په ښه سترګه ګوري. په قرآن کريم کې ځينې سورتونه د څارويو په نوم نومول شوي دي، لکه: البقره، الأنعام، النحل، النمل، العنکبوت او الفيل.
۳. اسلام د انسان ترڅنګ څارويو ته مهم ځای ورکوي او د هغوی عزت کول اړين بولي.
۴. قرآن کريم د ځينو څارويو ستاينه کړې ده لکه اس، چرګ او اوښ.
۵. د بار وړلو او سورلۍ په حق کې بايد د څارويو مراعات و شي او له ډېر بار نه چې توان يې نه لرې ډډه وشي.
٦. د څارويو خوراك او څښاك ته بايد پوره پاملرنه وشي.

**مناقشه**

په اسلام کې د څارویو د حقونو په اړه ځانګړې لارښوونې شته او د هغوی سره د ښه چلند او توان په پام کې نیولو باندې ټینګار شوی دی.

په یوه حیوان د دریو کسانو سپرېدل یو مسله ده، چې په اړه یې د علماوو ترمنځ اختلاف موجود دی.

امام نووي په خپل کتاب "المجموع شرح المهذب" کې د دې موضوع په اړه بحث کړی دی. هغه لیکي:

"که درې کسان په یوه څاروي سپرېږي او دې څاروي ته ضرر رسوي، نو دا منع ده؛ ځکه چې دې څاروي ته زیان رسوي"(النووي.۱۹۹۷. ج ۹ ص ۳۸۲).

ابن قدامه په خپل کتاب "المغني"کې دې مسلې ته اشاره کړې ده. هغه وایي:

"که یو څاروی د دریو کسانو وزن نه شي زغملی اودوی پرې سپرېږي، نو دا ناروا ده؛ ځکه چې دې څاروي ته زیان رسوي (ابن قدامه. ۱۹۹۷. ج ۹ ص ۳۸۲).

ابن تیمیه په خپل کتاب "مجموع الفتاوي"کې دې موضوع ته اشاره کړې ده. هغه لیکي:

"که څاروی د دریو کسانو وزن زغملی شي او زیان نه ورته رسیږي، نو دا جایز دی؛ خو که زیان ورته رسیږي، نو دا منع ده) "(ابن تیمیة. ۲۰۰۴. ج ۳۱ ص ۲۳).

په دې مسله کې د علماوو ترمنځ اختلاف شته، خو عمومي اصل دا دی چې که درې کسان په یوه څاروي سپرېږي او دې څاروي ته زیان رسوي، نو دا منع ده؛ خو که څاروی پیاوړی وي اوزیان نه ورته رسیږي، نو جایز دی.

**پایلې**

۱. په اسلام کې د څارویو حقونه ځانګړی ارزښت لري او د هغوی سره د ښه چلند په اړه روښانه لارښوونې شته.
۲. اسلام مسلمانانو ته امر کوي، چې له څارویو سره په رحم او شفقت چلند وکړي. اسلام د څارویو د ښې پالنې او د هغوی د اړتیاوو په پوره کولو ټینګار کوي. که څوك څاروی ساتي، نو مکلف دی چې هغه ته خواړه او اوبه ورکړي او د روغتیا خیال یې ساتي.
۳. څاروي ژوند کول غواړي او د ژوند درناوی یېباید وشي. د هغوی د ژوند اخیستل یوازې هغه وخت روا دی، چې د خوراك لپاره وي یا بل مشروع دلیل ولري. اسلام څارویو ته د بې ضرورته زیان رسول سخت منع کړې ده.
۴. د ساعت تېرۍ لپاره د څارویو ځورول حرام دی.

۵. اسلام انسانانو ته لارښوونه کوي، چې د ځارویو لپاره چاپېریال جوړ کړي. د څړځایونو ساتنه او د هغوی د ژوند د چاپېریال خرابول ناروا دي.

٦. په اسلام کې د ځارویو د حقونو اصول د رحم، عدالت او مسؤولیت پر بنسټ ولاړ دي. دا اصول نه یوازې د ځارویو حقونه خوندي کوي؛ بلکې د انسانانو په اخلاقو کې هم ښه والی راولي. د اسلامي ښوونې موږ ته دا راښيي، چې ټول مخلوقات د الله تعالی له لوري پیدا شوي او له هغوی سره باید په مهربانۍ چلند وشي.

**اخځلیکونه**


ابن تیمیه، ا. (۲۰۰۴م). *مجموع الفتاوی*. مجمع الملک فهد، مدینه، سعودي عربستان.

الإسفراييني، ي. (١٩٩٨م). *المستخرج علي صحيح مسلم*. دار المعرفة، بيروت.

البخاري، م. (١٤٢٢هـ، ق). *الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخاري*. دار طوق النجاة.

الترمذي، م. (١٩٧٥). *سنن الترمذي*.شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي.

الخراساني، ا. (١٤٢٤ هـ). *السنن الكبرى*. دار الكتب العلمية، بيروت.

السجستاني، س. ( ب ت ). *سنن أبي داود*. المكتبة العصرية، صيدا، بيروت.

الشاشي، ه. ( ۱۴۱۰ه ق). *المسند للشاشي*. مكتبة العلوم والحكم، المدينة المنورة.

الشيباني، ا. (٢٠٠١ م). *مسند الإمام أحمد*. مؤسسة الرسالة.

الطبراني، س. ( ب ت). *المعجم الكبير*. مكتبة ابن تيمية، القاهرة.

الصنعاني، ع. ( ۱۴۰۳)، *المصنف*. المجلس العلمي- الهند، المكتب الإسلامي، بيروت،

الطبراني، س.(ب ت). *المعجم الأوسط*. دار الحرمين، القاهرة.

الطحاوي، م. (١٤١٥ هـ). *شرح مشكل الآثار*. مؤسسة الرسالة.

الطيالسي، س. (١٩٩٩ م). *مسندالطيالسى*. دار هجر، مصر.

العبسي، ع. ( ١٩٩٧م). *مسند ابن أبي شيبة*. دار الوطن، الرياض.

القزويني، ع. ( ب ت). *سنن ابن ماجه، دار إحياء الكتب العربية*، فيصل عيسى البابي الحلبي.

المتقي الهندي، ع. (١٩٨١م). *كنزالعمال فى سنن الأقوال والأفعال*.مؤسسة الرسالة.

المدني، م. (٢٠٠٤ م). *الموطأ*. مؤسسة زايد بن سلطان آل نهيان للأعمال الخيرية والإنسانية، أبو ظبي، الإمارات.

المقدسي، ع. ( ١٩٩٧). *المغني*. دار عالم الكتب، رياض، سعودي عربستان.

الموصلى، ا. (١٩٨٤م). *مسند أبي يعلى*. دار المأمون للتراث، دمشق.

النسائي، ا، (٢٠٠١م). *السنن الكبرى*. مؤسسة الرسالة – بيروت

نووی، ی. ( ١٩٩٧). *المجموع شرح المهذب*. دار الفكر، بيروت، لبنان.

نووي،ی. (١٣٩٢). *المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج* دار إحياء التراث العربي، بيروت.

النيسابوري، م. (ب ت). *المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم*. دار إحياء التراث العربي، بيروت.

النيسابوري، م. ( ب ت). *صحيح ابن خزيمة*. المكتب الإسلامي – بيروت.